# A برخه: د ځنګله مقدمه یا پیل

## لومړی لوست: ځنګله پیژندنه یا تعریف

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه** زده کونکي به ددي لوست په پایله کي له لاندې موخو سره اشنا شي، د دې لوست تشریحات باید چي د لاندې موخو د منځته راتلو پایلي وګرځي:

1. ځنګل د ي تعریف کړل شي.
2. د ځنګلاتو یا ځنګلونو ارزښت دي تشریح کړل شي.
3. د ځنګلاتو نوعي دي مشخصي کړل شي.
4. له ځنګلونو څخه استفاده کول دي روښانه کړل شي.

**وړاندیز وخت د لوست ورکولو لپاره:** ۲ساعته

**وړاندیز منابع :** لاندې منابع کیدلی شي چي ددي لوست په تدریس کولو کي ګټوری واقع شي:
د دې درسي پلان نه د استفادې په خاطر د پاورپواینټ ارایه کول هم ترتیب شوي دي. د لاندې ویب پاڼو څخه هم په دې برخه کي استفاده او ګټه اخستل کیدلی شي.

- http://en.wikipedia.org/wiki/Forest
- http://forestry.about.com/library/tree/blwrldx.htm

- دسامان آلاتو،وسایلو او لازمو آسانتیاو لړلیک
- دلیکلوپه خاطر سپینه ورقه یا صفحه
- دپاورپواینټ پروګرام په خاطر غټ ښودونکی (پراجکتور)
- دپاورپواینټ (دکمپیوټرپروګرام) صفحي
- روښانه سلایدونه یا صفحي

**د ځنګله منظره**

**اصطلاحات:** په دی درس کی لاندی اصطلاحات کارول کیږی (ذکر شوی اصطلاح ګانی دپاورپواینټ په دوهم ګڼه سلاید یا صفحه کی په لویدلی او ډبل شکل سره وړاندی شوی دی)

- تجارتي ځنګلداري(commercial forestry)
- عمر تیری یا زاړه ځنګلونه(old-growth forest)
- ځنګل (forest)
- د لرګی خمیره(pulpwood)
- ځنګلداري(forestry)
- هغه ځنګل چي دبیا ځل لپاره یي نمو کړی ده(regrowth forest)
- د لرګی کنده یا تنه(log)
- د ځنګله احداث(silviculture)
- محلي یا ځایي ځنګل (native forest)
- د ونې فارم (tree farm)

**په زړه پوري تکلاره :** له په زړه پوري تکلاري څخه ګټه پورته کړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست لپاره آماده کړل شي.ډیری ښوونکي د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره لازمي لاري چاري او شرایط ترتیب او برابروي. په دي ځای کي یوه ممکنه تګلاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

د ځنګله یوه منظره نمایش یا کتنې ته وړاندې کړئ او یا هم زده کوونکي ځنګله ته یوسئ او له هغوي څخه پوښتنه وکړئ چي هغه شیان چي هغوي لیدلی دي هغه دي مشخص کړي. په ټولګي توضیحات د ذکر شوي موضوع په لوری سوق کړئ.

## د محتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژي ګاني

لومړی موخه یا هدف : د ځنګله پیژندنه یا تعریف

(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)

**1.** ځنګل د پیچلو ژوندیو او مغلقو یو له بل سره تړلو ونو، نورو نباتاتو او ځارویو یا حیواناتو له ټولنې څخه عبارت دی. دا د تغیر وړ یوه اجتماع یا ټولنه ده.

(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)

A . ځنګلات او نور نباتات په ځمکو او ساحو کي د تسلط لرونکي دي. د وحشي حیواناتو ژوند ممکن چې د یوې ټولنې په حیث له یوه ځنګله سره تړلی ژوند وکړي.

B. ځنګلات ددي امکان لري چي په یوه ټاکلې ساحه د ځمکې کي په نامحدوده توګه ژوند وکړي مګر دا چې د انسانانو او یا هم د اقلیمي مصیبتونو او نورو پواسطه زیانمن کړل شي او له منځه لاړ شي یا تخریب شي.

(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)

- C. ځنګلات د طبیعت په ثبات او استقامت کي برخه لري او په نتیجه کي په ډېرو شکلونو د ژوندانه سره، د انسانانو په شمول ګټور او سودمند تمامیږي.

D. د ځنګلاتو مطالعه او له هغې سره د تړلو جوامعو یا ټولنو مطالعه د ځنګلداری په نامه سره یادیږي.

** TM: 1-1 او یا هم د پاورپواینټ٦شمیره سلاید ددي تعریف لپاره د یوې ګټوري مادې په حیث په کار یوسئ. خپل توضیحات یا روښانتیاوي داسې ترتیب کړئ ؛ې ولي ځنګلات ډېر زیات مهم دي. زده کوونکي په دې باندې پوه کړئ، او د هغوي لپاره مشخص او ځانګړي دلیلونه وړاندې کړئ چي ولي ځنګلات مهم او ارزښت لرونکي دي.

دوهمه موخه یا هدف : د ځنګلاتو د اهمیت توضیح او روښانه کول.

(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)

**II.** ځنګلات د محیط یا چاپیریال ډېره مهمه برخه جوړوي. ځنګلات تقریباً د ځمکې د مخ دریمه حصه یا برخه احتوا کړې ده او افغانستان په حدود د ۱۳۵۱۰۰۰ هکتارو په اندازې سره ځنګلونه لري.

(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)

A. یوه ونه په یوه ځنګله کي د ونې د جنتیکي نموي خواصو او ونې د چاپیریال په منځ کي یو متقابل عمل ته انعکاس ورکوي.

1- د یوه ځنګله تولید او د ساتنې هنر د ځنګله د احداث(silviculture) په نامه سره یادیږي. ددي لپاره چي د ځنګله احداث په موثره توګه صورت ونیسي، باید چي د هغې د محیطي او جنتیکي تاثیراتو په منځ کي په شته اړیکو باندې پوه شو.

دریمه موخه یا هدف : د ځنګل د نوعو تشخیص او ځانګړتیا

(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)

III. په یوه وخت کي ځنګلاتو د نړی د وچې ډېره برخه په بر کي نیولی وه. دي طبیعي پناګاوو د نړی په ډېرو زیاتو مملکتونو کي خپراوي حاصل کړی دی.

(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاید)

A. . څو نوعه ځنګل شتون لري.

A1.  محلي يا ځايي ځنګل (native forest) له هغه ځنګل څخه عبارت دی چي نوعې (species) په خپل سره په هغې کي راټوکيدلی وي او په طبيعي توګه په ساحه کي شتون ولري. محلي يا ځايي ځنګلونه د مختلفو نوعو لرونکي دي او د وحشي حيواناتو ژوند په هغې کي مسئون دی.

(د پاورپواينټ ۱۱ شميره سلايد)

a.   د افغانستان اکثره يا ډيری ځنګلونه يو يا دوه ځلی پري کړل شوي دي. د ځنګله د ونو د بيا ځل تګلاره په دي ساحو کي د دوباره نوی شويو ځنګلاتو(re-growth forests) په نامه سره ياديږي. ددي نوعه ځنګلاتو د بيا ځل نمو لپاره تقريباً د يوه قرن خلورمه حصه(۲۵ کاله) ضرورت يا اړتيا ليدل کيږي

(د پاورپواينټ ۱۲ شميره سلايد)

B. نا پری کړل شوی ځنګل د عمر تيری ځنګل او يا هم د لاس نه وهل شوي ځنګل ( old-growth forest) په نامه سره ياديږي.

(د پاورپواينټ ۱۳ شميره سلايد)

2 A. د ونې فارم(tree farm) له هغه ساحې څخه عبارت دی چي په هغې کي وني د نوعو د اصلاح په منظور انتخاب شوي او کرل شوي وي. په دي فارم کي د هغو نوعو لپاره چي نا مطلوبي وي او مورد نظر نه وي د رشد او نمو اجازه نه ورکول کيږي. د نظر وړ کارونه په کي صورت نيسي ترڅو چي دا نوعه وني په ښه ډول سره وساتل شي او په چټکه توګه رشد او نمو وکړي.

(د پاورپواينټ ۱٤ شميره سلايد)

a. د ځنګل د حاصلاتو د اخستلو لپاره يو منظم مهال ويش ترتيب کيږي ترڅو چي په زياتي پيمانې سره لرګی توليد کړي.

3 .تجارتي ځنګلداري (commercial forestry)هغې ځنګله ته اطلاق کيږي چي په هغې کي د نظر وړ کارونه د هغو لرګيو د کميت او کيفيت د زياتوالی لپاره چي د مارکيټ وړ دي صورت نيسي.

**له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د ځنګله نوعي کومي چي په ساحه کي پيدا کيږي معيني او وټاکي او د بيا ځل لپاره توضحيات ورکړي. له دي څخه علاوه له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي په ګروپونو باندې تقسيم شي او د ځنګلاتو څخه د استفادې کولو يولست يا نوملړ ترتيب کړي. هروخت چي يي خپل لست ترتيب کړ، نو هغوي ګرد چاپيره راجمع کړئ ترڅو چي د ترتيب شوو لستونو په برخه کي خپل نظرونه سره تبادله کړي.

خلورمه موخه يا هدف : له ځنګلونو څخه استفاده کول دي روښانه کړل شي.

(د پاورپواينټ ۱۵ شميره سلايد)

IV له ځنګلونو څخه په زياتي پيمانې سره استفاده کول صورت نيسي. هغه توليدات چي له ځنګله څخه په لاس راځي په مختلفو طريقو سره په کار وړل کيږي.

A.   د ځنګلاتو له توليداتو څخه په زياتې پيمانې سره په خپله له ونو څخه د استفادې کولو په پرتله زياته ګټه اخستل کيږي.

(د پاورپواينټ ۱٦ شميره سلايد)

1. په تجارتي شکل سره له ځنګلاتو څخه اقتصادي ګټې منځته راځي. د ځنګلاتو له خامو موادو څخه د ګټورو موادو د جوړولو لپاره استفاده صورت نيسي.

a. د لرګی کنده يا تنه د ونې د ساقې يا تنې يوه مهمه مهره ده چي کيدلی شي له هغې څخه د مناسبو تختو د اره کولو لپاره کار واخستل شي.

b. د لرګی خميره(pulpwood)  له هغې لرګی نه عبارت ده چي د کاغذ جوړولو او دي ته ورته توليداتو لپاره په کار وړل کيږي.

(د پاورپواينټ ۱۷ شميره سلايد)

c. ځنګلات په زياتي پيمانې سره نور توليدات لکه د کتارو لپاره خادې، د لرګې شيره، مغزباب، د بلوط دانې، جلغوزه او نور منځته ته راوړي او مهيا کوي .

(د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد)

2 . ځنګلات د محیط یا چاپیریال لپاره زیاتي ګټې او مفاد وړاندې کوي
a. ځنګلات په اقلیم باندې تاثیر لري. ونې ددې قابلیت یا وړتیا لري ترڅو چې کوچني محیطونه په ګرمه هوا کې یخ کړي او د باد لګیدلو ته د کال په جریان کې کموالی ورکړي.

(د پاورپواینټ ۱۹ شمیره سلاید)
B ځنګلات رطوبت ساتي. ونې د اوبو له منځه تلو ته کموالی ورکوي او د واورې په ساتنه کې د هغې د ویلې کیدو په وخت کې کمک او مرسته کوي او همدارنګه، د ځمکې لاندې د اوبو د زیرمو په ساتنه کې مهم رول لوبوي. له دې څخه علاوه، ځنګلونه د سیلاب ننګونو ته کموالی ورکوي.
(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاید)
C. ځنګلات د وحشي حیواناتو یا ځاروېو د ژوندانه لپاره ځای برابروي. د ځنګل ډیری ونې مختلفې میوې لکه مغزباب، د بلوط دانې او نورې تولیدوي چې وحشي حیوانات له هغې څخه تغذیه کوي. ځنې د ځنګله له حیواناتو څخه له پاڼو، د ونو له خالیګاه، او نورو ځایونو څخه د ځالو او استراحت د بسترونو او اوسیدلو د ځایونو په حیث استفاده کوي.
(د پاورپواینټ ۲۱ شمیره سلاید)
D. ځنګلات د ککړتیاو د کموالی او له منځه وړنې لپاره په کار وړل کیږي. ونې له هوا څخه یو څه ککړتیا لرې کوي، دا ککړ شوي ذرات د ونو د پاڼو په سطحو باندې رسوب کوي چې په دې ترتیب سره د ککړتیا خطرته کموالی ورکوي.
e. ونې د آوازنو او نورو غږونو د کموالی لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي. ونې اکثره د سرکونو او جادو په غاړو کې کرل کیږي ترڅو چې د عراده جاتود آوازونو او غږونو په کموالی کې په هغه ځای کې چې دوي ورڅخه تیریږي مرسته او کومک وکړي.
(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاید)
f. ځنګلات د ساعت تیرۍ او تفریح کولو لپاره زمینه برابروي. خلک په ځنګله کې له پیاده تګ راتګ او ګرځیدو څخه خوند اخلي او د ونو شین والی او وحشي حیوانات مشاهده کوي.

** A1-2: TM او یا هم د پاورپواینټ ۲۳ شمیره سلاید د هغې مادې په حیث چې ددې موضوع د خلاصې لپاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

**تکرار / لنډیز:** د دې لپاره چې ذکر شوي موضوع یا هدفونو د بیا ځل لپاره تکرار کړل شي، له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چې یادداشت یې کړي او اصطلاحات د بیا ځل لپاره تر کتنې لاندې ونیسي. او په دې باندې علاوه، په دې برخه کې سوالونه وړاندې کړې. همدارنګه د پاورپواینټ د ۲٤ شمیرې سلاید سوالونه هم کیدلی شي چې د بیا ځل تکرار په توګه تر استفادې لاندې ونیول شي.

**تقاضا یا غوښتنه (Application):** زده کونکي ممکن چې ذکر شوي معلوماتو ته د افغانستان د ځنګلاتو سره اړیکه یا ارتباط ورکړي.

**ارزیابی (Evaluation)** د ارزیابۍ لپاره د موادو په رابطه د زده کونکو د درک قوه، کومه چې په دې لوست کې بیان شوي ده او هم راتلونکی په لیکلې بڼې سره ازموینه په کار یوسئ.

نمونه ئي امتحان ته ځوابونه :

لومړۍ برخه : اړيکه يامطابقت ورکول (Matching)

1.c
2.e
3b.
4.f
5.g
6.d
7.a

دوهمه برخه: تکميل يا بشپړ کول

**1.** محيطي يا چاپيريالي او جنتيکي تاثيرات
2. رطوبت، حرارت يا تودوخه ، او خاوره
3. محلي يا ځايي
4. د ځنګله دوباره نمو

دريمه برخه: لنډ ځواب

د محلي يا ځآيي اقليم تاثيرات، د رطوبت ساتنه او حفظ کول، د وحشي حيواناتو د اوسيدلو لپاره د ځآی يا محل برابرول، د ککړتيا لری کول، د اوازونو او غږونو کموالی، او د تفريح او ساعت تيرۍ فعاليتونه

نمونه ئي امتحان                                    نوم____________

امتحان(ازموینه)

## د A برخه لومړی لوست: د ځنګلاتو تعریف یا پیژندنه

لومړۍ برخه: اړیکه یا ارتباط ورکول

رهنمایی(لارښوونه): اصطلاح د درست ځواب سره سمه ارایه کړئ. د اصطلاح توری د هغې له درست تعریف سره سم نوشته کړئ

a. تجارتي ځنګلداري
b. ځنګل
c. د ځنګله د ونو راټوکیدل
d. ځنګلداري
e. محلي یا ځآیي ځنګل
f . عمر تیری یا زوړ ځنګل
g. د ونې فارم

_____ 1.  د ځنګل د تولید او ساتنې هنر
_____ 2.  هغه نوعي چي په خپل په خپله یي نمو کړي وي او په طبیعي توګه په ساحه کي شتون ولري.
_____ 3 . د ونو پیچلي ژوندۍ او یو په بل پوری تړلی ټولنه یا جامعه
_____ 4.  پری کړی شوی ځنګل
_____ 5. هغه ساحه چي په هغې کي د ونو نوعي د انتخاب او اصلاح لپاره کرل کیږي.
_____ 6.  د ځنګلاتو مطالعه او د هغې پوري د تړلو ټولنو مطالعه.
_____ 7. د ځنګل د لرګی د کمیت او کیفیت د بهبود لپاره د یوه ځنګل څآرنه او ساتنه په هغه وخت چي مارکیټ ته انتقالیږي

دوهمه برخه: تکمیل یا بشپړ کول

رهنمایی(لارښوونه): د لاندې تشو ځایونو لپاره مناسبي کلمي یا کلمه وړاندې کړئ:

1.د ____________________ او __________________ په منځ کي په اړیکه یا ارتباط باندې کوم چي د ځنګلاتو د ساتنې او راټوکیدنې لپاره په موثره توګه تر استفادې لاندې نیول کیږي، باید پوه شو.

2. ____________ او ____________ په هغه ځنګل باندې چي راټوکیږي تاثیر غورزوي.

3. ______________ هغه ځنګلات دي چي د مختلفو نوعو لرونکي دي او د وحشي حیواناتو لپاره د ژوندانه لپاره محل یا ځای برابروي.

4.  یوه ساحه چي یو یا څو ځلي پري کړی شوي وي په نامه د ____________________ سره یادیږي.

دریمه برخه: لنډ ځواب

رهنمایی(لارښوونه): ددي سوالونو د ځوابولو لپاره معلومات وړاندې کړئ.

1-1 A : TM

ځنګل – د ونو، نورو نباتاتو او حیواناتو یا ځآرویو یوه ژوندۍ جامعه یا ټولنه
ځنګلداري- د ځنګلاتو مطالعات او د هغې پوري د مربوطه ټولنو مطالعات



2-1 A : TM

له ځنګله څخه استفاده کول

یوه ونه په یوه کال کي په منځني ډول سره ۱۱،۸ کیلو ګرامه کاربن ډای اوکسائډ د ځمکې له اتوموسفیر څخه جذبوي.

